مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۶/۰۹/۱۱

# پیـغلې لــه سـتـرګـو نــه د اوښــکـو قــافـلـې وباسي




دا په ښکاره د خدای له امر څخه پښې و باسي
د اقــراء ټکـی د مذهب لــه سیپــارې وبــاسـي

دا واک بــه تېر شي امتحان کې به ناکام پاتې شي
هلتــه بــه نــه قبلېږي څـومـره که توبې وبـاسي

خـدای د ذرې حسـاب کړي دا خو دی سم غر د ګناه
چــې هــره ورځ د امـیـدونـو جـنــازې وبــاسـي

مکتب شـروع شـو ځـي خـوشـالـه د زلمیو کاروان
پیـغـلې لـه سـترګـو نــه د اوښــکـو قـافـلــې وباسي

ای !جـوړوي تـرېـنـه بـاوره د تـورتـم وسـیـلــه
قــرآن هـمـدېـتـه نــازل شـوی چې تیارې وباسي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ